# له چا څخه چې لمونځ هېر شو، نو هغه مهال دې وکړي کله چې ورياد شو، لدې پرته يې بله کفاره نشته

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «له چا څخه چې لمونځ هېر شو، نو هغه مهال دې وکړي کله چې ورياد شو، لدې پرته يې بله کفاره نشته: {وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي} او زما د ياد لپاره لمونځ وکړئ [طه: 14] ».
[صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بيانوي چې له چا څخه هر يو فرضي لمونځ هېر شو تر دې چې قضا شو، نو کله چې ورياد شو بايد په راګرځولو کې يې بېړه وکړي، ځکه د لمانځه د پرېښودلو ګناه يې نه بخښل کيږي او نه پرې پرده اچول کيږي تر دې چې مسلمان بېرته خپل لمونځ راوګرځوي کله چې ورياد شي، الله جل جلاله په خپل عزتمند کتاب کې فرمايلي: {وأقم الصلاة لذكري} [طه: 14] ، يعنې هېر شوی لمونځ ادا کړه کله چې دې درياد شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65088